ولی ناروغ

۲۰۲۰/۱۱/۱۶

# یـا ربـــه!!!

یـا بسته خــدایه د دیــن دغــه دکــان کــړه
یــا خو جوړ بــاغ حــرم دغه مکان کړه

پــیـدایــښت د آزمــایــښت لــپاره ځــه دی؟
یا یــې واخلــه پــه جنت کــې امتحان کړه

دغه ښــکلی ژونــدون ولــي سیــلاب یوسي
لړ یي غــرق د عشرتــونــو پــه بــاران کــړه

یـــو فـــرمان د بهـــارونـــو را نازل کـــړه
د تــقــدیــر له ځنځرونو خلاص رندان کړه

آلــوده بشـــر د مـیـنـــی غسل غـــواړي
یـا یـی فـکر پـاکیـزه ویښ یـی وجدان کړه

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ